# KHURASAN UNIVERSITY

Join the pace & lead the future....










# د لارښود کتاب

## 2024

## اداره او تجارت څانګه لیسانس برنامه ( BBA )

بسم الله الرحمن الرحيم

## اداره او تجارت څانګې د امر پیغام!

تجاربو ښودلې چې پلان جوړونه د بشري ټولنو په بیلابیلو برخو خصوصاً په علمي او اکاډمیکو بنسټونو کې د پرمختګ له پلوه ستر رول لري. او هغه اهداف چې د مفصلو او غوره شویو پلانونو پر بنسټ تعقیب شوي ګټوري، دوامداره او اوږد مهاله پایلې لري. د موخو، اړتیاوو، ظرفیتونو دقیق او پر وخت ټاکل او د وخت او ځای د شرایطو په پام کې نیولو سره د هر پروګرام او پلان د عملي تطبیق له مهمو برخو څخه دي. تر ټولو غوره او موثر پلان اهدافو ته په لنډ او مناسب وخت کې رسیدل دي او دا کار یوازې د مدیریت څخه په ګټه اخیستنې سره ممکن دی، له همدې امله دخراسان پوهنتون اقتصاد پوهنځي د اداره او تجارت مدیریت څانګه د هیواد د ټولو اتباعو لپاره د معیاري او ګټورو خدمتونو وړاندې کولو ته ځان ژمن او پابند ګڼي او هڅه کوي چې د نورو سکتورونو تر څنګ د کمیتي او کیفیتي ودې په لور سالمه او هدف منده لاره غوره کړي، او پوه سوداګریز مدیران چې کولی شي په سوداګریزو، صنعتي او دولتي ادارو کې د مدیریت په مختلفو کچو کار وکړي یا د مدیریت مشاورینو په توګه دندې ترسره کړي، ټولنې ته وړاندې کړي.

**امان الله شیرزی**
**اداره او تجارت څانګې امر**





# اداره او تجارت څانګې لیسانس برنامه

## د اقتصاد پوهنځی اداره او تجارت څانګې لیسانس برنامې (BBA) لنډه پیژندنه:

د اداره او تجارت څانګې لیسانس برنامې (BBA) خپل فعالیت په ۱۳۸۶ ه ش کال کې پیل کړی دی چې تر دی دمه یې د منجنمنت په برخه کې ګڼ شمیر فارغان ټولنې وړاندې کړي دي. د نوموړې برنامې تدریسی چارې په ملي او نړیوالو معیارونو په پښتو او انګلیسې ژبو د علمي، مسلکي، پیاوړو او مجربو داخلي او خارجي استادانو له خوا پرمخ وړل کیږي. دا برنامه د اقتصاد پوهنځي په مرسته د علمي کادرونو د تحصیلي سطحې د لوړولو او محصلانو د روزولو لپاره د بیلابیلو ملي او نړیوالو پوهنتونونو سره توامیتونه لري، چې پر مټ د نوموړې څانګې یو شمیر استادان او محصلانو په مختلفو هیوادونو کې د ماسترۍ په زده کړو بوخت دي. نوموړې برنامه د اقتصاد پوهنځي په مرسته د یو لړ سکتوري ادارو سره لکه مستوفیت، بانکونه، د صنعت او سوداګرۍ خونې، ګمرک ، اقتصاد ریاست، تصدی، کمپینیو ، فربریکو او داسې نورو سره شریک توامیتونه لري، چې له مخې یې محصلانو ته د عملي زده کړو زمینه برابره شوې ده. نوموړې برنامې تر دمه تر ۲۲۴۷ تنه فرغان ټولنې ته د خدمت په موخه تهیه کړي دي.

نوموړې برنامه ددې تر څنګ لاندې ځانګړتیاوې لري.

- پېژندل شوی تحصیلي سند (ډیپلوم).
- پیاوړېتجربه لرونکي مسلکي استادان.
- د رشتې اړوند غني کتابتون.
- په پرمختللو وسایلو مجهز تدریسي ټولګي، د کمپیوټر او انټرنیټ وړیا اسانتیاوې.
- ارام، خوندي مسلکي – تحصیلي چاپېریال.
- پیاوړي، تجربه لرونکي او په کار پوه اداره.
- اسلامي، ملي او کلتوري ارزښتونو ته بشپړ درناوی.










## د اداره او تجارت ځانګې لرليد ، ماموريت، اهداف او رزښتونه

لرليد:

د اقتصاد پوهنځې اداره او تجارت څانګه په پام کې لري چې د اداری او تجارت په برخه کې د لوړو زده کړو او څيړنی لپاره يوه ډاډمنه پيژندل شوی ادرس وي .

ماموريت

د اقتصاد پوهنځې اداره او تجارت څانګه ملی او نړيوالو معيارونو سره سم د ځوان کهول په روزنه ، علمی پروګرامونو او څيړنو په ترسره کولو او عصري ټکنالوژۍ په پلی کولو سره د هېواد او ټولنی پرمختګ رامنځته کوي .

موخې او اهداف :

۱. دوخت سره سم د اقتصادي مسايلو د حل لپاره اړوند څېړنی تر سره کول

۲. د عصري تکنالوژي څخه په ګټه اخيستنی سره د زده کړو اسانتياوی برابرول.

۳. په اقتصادی مسايلو کښې د ټولنې د موجوده ستونزو حل کولو کښې ونډه اخيستنه.

۴. داقتصادي پرمختګ په موخه دعلمي کدرونو ،محصلينو روزل او علمی ظرفيت لوړول.

۵. د نړيوالو علمي معيارونو سره ځان برابرول.

# د خراسان پوهنتون د اقتصاد پوهنځی تحصیلي نصاب

| پرله پسي نمبر | مضمونونه | د مضمونونو کوډ | د کریډیټ تعداد |
|---|---|---|---|
| لومړي کال (لومړی سمستر) | | | |
| ۱ | Introduction To Business | BBA-MGT101 | 3 |
| ۲ | Information Technology - I | BBA-IT101 | 3 |
| ۳ | Financial Accounting - I | BBA-ACC101 | 4 |
| ۴ | Micro Economics | BBA-ECO101 | 3 |
| ۵ | English Comprehension | BBA-ENG101 | 3 |
| ۶ | Islamic Studies- I | BBA-IS101 | 3 |
| مجموعه | | | **19** |

| پرله پسي نمبر | مضمونونه | د مضمونونو کوډ | د کریډیټ تعداد |
|---|---|---|---|
| د لومړي کال (دوهم سمستر) | | | |
| ۱ | Islamic Studies - II | BBA-IS102 | 4 |
| ۲ | Macro Economics | BBA-ECO102 | 3 |
| ۳ | Afghanistan Modern History | BBA-HIS101 | 3 |
| ۴ | Financial Accounting - II | BBA-ACC102 | 4 |
| ۵ | Oral&Written Communication | BBA-ENG102 | 3 |
| ۶ | Information Technology-II | BBA-IT102 | 3 |
| مجموعه | | | **20** |

| د دوهم کال (لومړی سمستر) | | | |
|---|---|---|---|
| د کریډیټ تعداد | د مضمونونو کوډ | مضمونونه | پرله پسي نمبر |
| 4 | BBA-ACC103 | Cost Accounting | ۱ |
| 3 | BBA-MGT102 | Principles of Management | ۲ |
| 3 | BBA-MTH101 | Business Math-I | ۳ |
| 3 | BBA-MKT101 | Principles of Marketing | ۴ |
| 3 | BBA-MGT103 | Business Communication | ۵ |
| 4 | BBA-IS103 | Islamic Studies - III | ۶ |
| **20** | مجموعه | | |

| د دوهم کال (دوهم سمستر) | | | |
|---|---|---|---|
| د کریډیټ تعداد | د مضمونونو کوډ | مضمونونه | پرله پسي نمبر |
| 3 | BBA-MKT102 | Marketing Management | ۱ |
| 3 | BBA-ECO103 | Development Economics | ۲ |
| 3 | BBA-FIN103 | Banking | ۳ |
| 3 | BBA-MGT104 | Human Resource Management | ۴ |
| 3 | BBA-PSY101 | Psychology | ۵ |
| 3 | BBA-MTH102 | Business Statistics-I | ۶ |
| 3 | BBA-IS104 | Islamic Studies -IV | ۷ |
| **21** | مجموعه | | |

| دریم کال (لومړی سمستر) | | | |
|---|---|---|---|
| پرله پسې نمبر | مضمونونه | د مضمونونو کوډ | د کریډیټ تعداد |
| ۱ | Small and Medium Enterprise | BBA-MGT105 | 3 |
| ۲ | Business Finance | BBA-FIN101 | 4 |
| ۳ | Business Statistics-II | BBA-STA101 | 3 |
| ۴ | Marketing Research | BBA-MKT101 | 3 |
| ۵ | E-Commerce-I | BBA-IT103 | 3 |
| ۶ | Islamic Studies-v | BBA-IS105 | 4 |
| مجموعه | | | **20** |

| دریم کال (دوهم سمستر) | | | |
|---|---|---|---|
| پرله پسې نمبر | مضمونونه | د مضمونونو کوډ | د کریډیټ تعداد |
| ۱ | Entrepreneurship | BBA-MGT106 | 3 |
| ۲ | E-Commerce-II | BBA-IT103 | 3 |
| ۳ | Consumer Behavior | BBA-MKT104 | 3 |
| ۴ | Financial Management | BBA-FIN102 | 4 |
| ۵ | Business Ethics | BBA-MGT107 | 3 |
| ۶ | Islamic Studies -VI | BBA-IS106 | 2 |
| ۷ | Sociology | BBA-SO101 | 3 |
| مجموعه | | | **21** |

| خلورم کال (لومړی سمستر) | | | |
| --- | --- | --- | --- |
| پرله پسي نمبر | مضمونونه | د مضمونونو کوډ | د کریډیټ تعداد |
| ۱ | Business Law | BBA-MGT108 | 3 |
| ۲ | Business Research Method | BBA-MGT111 | 3 |
| ۳ | Organizational Behavior | BBA-MGT109 | 3 |
| ۴ | Elective I | --- | 4 |
| ۵ | Elective II | --- | 4 |
| ۶ | Islamic Studies -VII | BBA-IS107 | 2 |
| مجموعه | | | **19** |

| خلورم کال (دوهم سمستر) | | | |
| --- | --- | --- | --- |
| پرله پسي نمبر | مضمونونه | د مضمونونو کوډ | د کریډیټ تعداد |
| ۱ | Production&Operaton Managements | BBA-MGT110 | 3 |
| ۲ | Managerial Economics | BBA-ECO104 | 3 |
| ۳ | Elective III | --- | 4 |
| ۴ | Elective IV | --- | 4 |
| ۵ | Islamic Studies -VIII | BBA-IS108 | 2 |
| ۶ | Internship | --- | 5 |
| مجموعه | | | **21** |

# د تخصصي/ اختياري مضمومونو لیست

| ( د فینانس اختیاري مضمونونه) | | | |
|---|---|---|---|
| پرله پسي نمبر | مضمونونه | د مضمونونو کوډ | د کریډیټ تعداد |
| 1 | Corporate Finance | BBA-FIN104 | 4 |
| 2 | Investment Portfolio Management | BBA-FIN105 | 4 |
| 3 | Financial Risk Management | BBA-FIN106 | 4 |
| 4 | Islamic Banking & Finance | BBA-FIN107 | 4 |

| (د منجمنټ اختیاري مضمونونه) | | | |
|---|---|---|---|
| پرله پسي نمبر | مضمونونه | د مضمونونو کوډ | د کریډیټ تعداد |
| 1 | Change Management | BBA-MGT112 | 4 |
| 2 | Total Quality Management | BBA-MGT113 | 4 |
| 3 | Project Management | BBA-MGT114 | 4 |
| 4 | Leadership | BBA-MGT115 | 4 |





## محصل څوک دی؟

د اداره او تجارت ځانګړي لیسانس برنامې په آند محصل هغه څوک دی چې د یوې قانوني پروسې له لارې ددې پوهنتون اړوند پوهنځیو په درسي – تحصیلي پروګرامونو کې شامل او یا یو درسي بهیر یې بشپړ او په بل درسي پروګرام کې د شاملېدو مستحق وي او یا هغه چاچې د پوهنتون له تدریسي پروسې څخه مؤقت رسمي رخصت او یا تأجیل اخیستی وي هم محصل ګڼل کیږي.

**د محصل د منلو شرایط**:

د محصل منل د خراسان پوهنتون د اساسنامې د درې دیرشمې (۳۳) مادې د حکم پر اساس په لاندې ډول صورت نیسي:

– د ښوونې او روزنې وزارت په تائید د دولسم ټولګي د فراغت سند ارائه کول.

– د تابعیت تذکره، د بهرنیو محصلینو لپاره د پاسپورت او رسمي ویزې درلودل.

– د خراسان پوهنتون د کانکور ازموینه کې ګډون او بریالیتوب تر لاسه کول او یا د لوړو زده کړو وزارت له طریقه د کانکور امتحان د اخیستلو وروسته دې پوهنتون ته د تحصیل په موخه معرفي کول.

– په خراسان پوهنتون کې محصل پرته له جنسي، نژادي سمتي، قومي، رنګ، عقیدې او ژبنی تعصباتو منل کیږي او ټول یو شان حقوق او امتیازات لري.

– په ټاکل شوو ځانګو کې چې له مخکې پلان شوی وي د محصلانو منل.

**په اداره او تجارت ځانګې لیسانس برنامه کې محصل په لاندی ډول ارزول کیږي**:

د خراسان پوهنتون په بیلابیلو پوهنځیو کې محصل د صنفي فعالیتونو، سمینارونو، کنفرانسونو، کویزونو، ټستونو، ۲۰ فیصده امتحانونو او بالاخره د سمستر د فاینل امتحان له طریق ارزیابي کیږي.

په نوموړې برنامه کې د محصلینو ارزونه په لاندې طریقو صورت نیسي .

۱: صنفي فعالېتونه ۲۰٪ نمرې لري چې په لاندې ډول دي:

الف: کویزونه .

ب: کورنۍ دندې.

ج: پریزنټیشن .

۲: منځنۍ ازموینه: دغه ازموینه د سمستر منځنۍ ازموینه ده چې دمحصل د ارزونې په موخه اخیستل کیږي او ۲۰٪ نمرې لري.

۳: نهایي ازموینه: دغه ازموینه د سمستر وروستۍ ازموینه ده چې د محصل د ارزونې په موخه اخیستل کیږي او ۶۰٪ نمرې لري .

۴: د مونوګراف د دفاع ازموینه: دغه ازموینه د محصل څخه د څلور کلنې دورې په پای کې اخیستل کیږي او د ۲۰۰ نمرو پر اساس محصل ارزیابي کیږي چې د ۱۱۰ نمرو په اخیستلو سره محصل بریالی ګڼل کیږي.

**د محصلینو لپاره تخفیف**:

خراسان پوهنتون خپلو محصلینو لپاره په بېلابېلو مواردو کې ځانګړی تخفیفونه لري چې کیدای شي په لاندې توګه ترې نوم واخیستل شي:

۱. هر کال شپږو (۶) تنو د شهیدانو وارثانو ته 100% تخفیف.

۲. معلولینو لپاره 20% تخفیف.

۳. د لیسانس برنامو کې نجونو لپاره 50% تخفیف .


۴. د سمستر په ازموینو کې لمړي درجه ممتاز محصل محصل ته 40%، دوهمه درجه ممتاز محصل ته 30% او دریمه درجه ممتاز محصل ته 20% تخفیف.

۵. په سپورتي فعالیتونو کې د الف لوبډلو لوبغاړو لپاره د 20% څخه تر 30% پورې تخفیف.

۶. اقتصادي او ټولنیزو ستونزو سره مخامخ محصلینو لپاره خراسان پوهنتون یو ځانګړی کمیسیون لري چې له دقیقې څېړنې وروسته ورته 20% څخه تر 30% پورې تخفیف ورکول کیږي.








Diploma in English Language

## زیربناوې او روبناوې:

محصلینو ته د انګلیسی ژبې د زده کړې یو کلنه وړیا د DEL برنامه لري .

۲۱۷۱۶ عدد په الکترونکي او ۱۵۰۷ عدد په فزیکی بڼه کتابونه لري چې نوموړی پوهنځي محصلین تری په وړیا توګه استفاده کوي .

محصلینو ته وړیا انټرنیټي سهولت لري چې محصلین تري په علمي او تحقیقي برخه کې استفاده کوي .

د ماسترۍ او دوکتورا تر کچې لرونکي استادان لري.

ټولی تدریسی خوني په ایرکنډیشن او نورو لازمو تجهیزاتو سمبال دي .

مجهز لیبونه لري.

مسجد په لرلو سره محصلینو ته د لمانځه زمینه سازي .

محصلینو لپاره پراخه او مجهز سپورټي میدان لري چې د فارغ وخت کې محصلین په سپورت کولو سره بدني روزنه او تفریح کوي .

د موټرو او نورو نقلیه وسایلو لپاره پرخه تم ځای لري چې محصلین خپلو نقلیه وسایلو لپاره تري په وړیا توګه استفاده کوي .

د هیواد په سطحه منل شوی ټافل سنټر لري تر څو محصلین پکې د ټافل امتحان په ورکولو سره نړۍ وال انګلیسی سند تر لاسه کړي .

راجستر شوی ټرنیټنټ سافټ ویر لري چې د محصلینو د تحقیق مونوګراف او انټرنشیپ راپور د ادبي سرقت په ګوته کولو کې مرسته کوي .

دمحصلینو ذهني ارامتیا لپاره چمنونه او شني ساحي لري .

محصلینو ته د سیمینارونو موثری ارایه مهارت زده کړې په موخه Talk 20 برنامه لري .

محصلینو لپاره Cognitive Exchange برنامه لري چي د نوموړي برنامې له لارې د یاد پوهنځي محصلینو ته د نړیوال پوهنتونو استادانو لخوا انلاین سمینارونه او ټرینګونه ورکول کیږي منظم کانتین.

د ترکي مالیزیا او پاکستان ځیني معیاري پوهنتونونو سره ګډ علمي تواميتونه لري چي په اساس یې د یاد پوهنځي محصلین نوموړو پوهنتونونو ته د دوه سمسترو لپاره لیږل کیږي

مجهز Resource Center


د ورکشاپونو او کنفرانسونو ارائیه کولو لپاره مجهز کنفرانس هال.


د تحقیق لارښود استادان(Research Supervisors) سره د مشورې لپاره ځانګړې خونه .


معلوماتو ته د لاس رسي په موخه ویب سایټ او اجتماعي صفحه.

په ملي ژبو د تحقیق مجله.

د تحقیق پایلو نشر لپاره نړیوال ژورنال.




## د زده کړې مدیریت سیستم ( Learing Management System )

د زده کړې عصري مدیریتي ان لاین سیستم (LMS) په مرسته به درانه محصلین وکولای شي چي له هر ځای او هر وخت د انټرنیټ پر مټ د خپلو پروفایلونو تر څنګ د مضامینو له مفرداتو، کورس پالیسیو ، لیکچرنوټونو ، سلایډونو ، کتابونو ، د فیسونو تادیې، تولګیو مهال ویشونو ، حاضرې، له استاذانو د پوښتنو مطرح کوونې، د کورنیو دندو څخه خبرتیا او د هغو ان لاین سپارل ،د کویزونو او نتایجو څخه خبرتیا د پوهنځي د نورو چارو څخه د نه رضایت په صورت کې د مشکلاتو مطرح کول، د پوهنتون ډیجیټل کتابتون ته لاس رسی او تر یو ځانګړې تعداد کتابونو ډاونلډول، او نور هغه څه دي چي د زده کړې مدیریتي سیستم (LMS ) سیستم په لرلو سره به محصلین تري ګټې استفادې پورته کولای شي.



**دمحصلینو دندې او مسؤلیتونه**:

د مقرراتواو احکامو رعایتول.

له تاوتریخوالي، توهین او هر ډول ناوړه عملونو څخه مخنیوی، په پوهنتون، پوهنځی، برنامه او ټولګي کې نظم او دسپلین ته له زیان رسولو ډډه کول.

د استادانو، محصلانو او منسوبینو حقوقو ته درناوی کول.

له هر ډول تبعیضي او تعصبي کړنو څخه ډډه کول.

درسونو ته په بشپړ ډول تیاری نیول او په تحصیلي چارو کې فعال ګډون کول.

د پوهنتون، پوهنځی او دیپارتمنت په ساحه کې نظافت او پاکی ته پاملرنه کول.

د هویت کارتونو او نورو هغو شیانو بیرته سپارل چې محصل ته د تحصیل په دوره کې ورکړل شوی دی.

اسلامي، ملي او کلتوري ارزښتونو ته بشپړ درناوی.

**د محصلینو حقوق**:

خراسان پوهنتون کې محصلان ددې پوهنتون د اساسنامې د څلور دیرشمې (۳۴) مادې د حکم سره سم د لاندی حقوق څخه برخمن دي.

په درسونو (لکچرونو) سمینارونو، کنفرانسونو او ښوونیزو پروګرامونو کې محصلانو ته د هغوې د وړتیا پر اساس برخه ورکول.

له ټولو اکادمیکو اسانتیاوو او امکاناتو لکه کتابتون، وړیا انټرنیت خونو، چاپي رسنیو، لابراتوارونو، کمپیوټر لیبونو او نورو څخه ګټه اخیستل.

د سپورتي میدانونو او وسایلو څخه استفاده کول.

په قانوني توګه دمحصلانو د بیلابیلو مدني ټولنو په چوکات کې مدني فعالیتونه ترسره کول.

د تدریسي، علمي او اداري چارو د سمون او پیاوړتیا په موخه مشوره او نظر ورکول.

د سمسترونو په ازموینو کې د 40% څخه تر 20% پورې د ممتازو محصلانو لخوا د پوهنتون د تخفیف څخه استفاده کول.

په کانکور امتحان کې د لوړو نمرو ګټونکو ته په داخله فیس کې 50% تخفیف ورکول.




د څلور کلنې دورې په پای کې عمومي اول نمره ته ستاینلیک او مډال ورکول.

هر محصل ته د خراسان پوهنتون لخوا د هویت کارت ورکول.

محصل ته د هر مضمون مفردات، مقاصد ، ګټې او د ازموینې اخیستلو ډول روښانه کول.

له هر ډول ډار، زورونې او رټنې څخه دمحصل خوندیتوب.

د اصولو مطابق د محصل د شکایت کولوحق.

د څلور کلنې تحصیلي دورې په پای کې د مونوګراف تر بشپړیدو وروسته محصل ته د تحصیلی سند (دیپلوم) ورکول.

**د محصلانو د شکایت کولو او اوریدلو لارې چارې**:

اداره او تجارت ځانګې لیسانس برنامه همیشه کوشش کوي چې داسې یو تدریسي – تحصیلي چاپیریال رامنځته کړي چې په هغې کې د محصلینو، استادانو او ادارې او خدماتي منسوبینو بشپړ حقوق خوندي وي.

که چیرې یو محصل ، استاد او یا ادارې او خدماتي کارمند د بل محصل ، استاد او ادارې او خدماتي کارمند څخه د رسمي دندو او وجایبو د اجرأ په ترڅ کې شکایت ولري نو کولای شي په لاندې توګه خپل شکایت ارائه کړي:

**په غیرې رسمي ډول ادارې ته شکایت کول**:

د شکایت د موجودیت په صورت کې شکایت کوونکي کولای شي خپل شکایت په غیر رسمي ډول له هغه چا سره شریک کړي چې ترې شکایت لري. مونږ باوري یو چې دا ستونزو ته د رسیدګۍ تر ټولو غوره لار ده ځکه هیڅ شکایت نشته چه د خبرو اترو له لارې حل نشي. د بلې خوا که چیرې مشکل لرونکي او مشکل جوړونکي په خپل منځ کې د مفاهمې له لارې پیدا شوې ستونزه حل کړي نو کدورت او بد بینیو ته ځای نه پاته کیږي.







په رسمي ډول شکایت کول.

که چیرې د محصل ستونزه په غیر رسمي ډول حل نشي نو کولای شي په تحریري ډول خپل مشکل د پوهنځي او پوهنتون له مقاماتو سره مطرح او خپل غوښتنلیک د مشکل اړوند اسنادو او شواهدو سره ضمیمه کړي.

محصل باید د شکایت وروسته تر یوې اوونۍ پورې د پوهنځي او پوهنتون د مقاماتو پریکړې ته انتظار وباسي خو که چیرې محصل په یاده موده کې د خپلې ستونزې حل تر لاسه نکړي او یائې پریکړه د قناعت وړ نه وي نو کولای شي موضوع د اسنادو او شواهدو سره یو ځای په لیکلی ډول د پوهنتون له عمومي رئیس سره شریکه او قناعت تر لاسه کړي.

**د محصلینو حاضري:**

د محصلینو حاضري لږ تر لږه 75% فیصده ده، یعنې هر محصل مکلف دی چې په هر سمستر کې له 75% فیصدو څخه زیاته حاضري ولري.

**د محصل د ناوړه کړنو په اړه د برنامې پالیسي:**

**د ناوړه چلند بیلګې:**

د زده کړې پرمهال اکادمیکه ربښتینولي نه مراعات کول.

د زده کړې پرمهال له هر ډول غیر اکادمیکې کړنې لکه نقل، د نورو علمي اثار په خپل نوم کول، له یوه علمي اثر څخه په علمي مسائلو کې څو ځلې ګټه اخیستل او د خپل نفوذ څخه په تحصیلي چارو کې ناوړه استفاده کول.

**نقل:**

د ازموینې په دوران کې له ټولو هغو وسایلو او موادو څخه ګټه اخیستل چې د اکاډمیکو اصولو له مخې منع دي ، نقل ګڼل کیږي.

د بیلګې په توګه د نورو له وړتیاوو څخه د ځان په ګټه کار اخیستل، د کتاب او لیکل شوي متن کارول، له تکنالوژۍ څخه ناوړه استفاده او داسې نور.

**د نورو علمي اثار د ځان په ګټه کارول:**

که چیرې یو محصل د بل شخص ټول علمي اثر او یاد هغې یوه برخه په خپل نوم پرته له ماخذ ښودنې وکاروي جرم ګڼل کیږي او دغه عمل د کتاب، مقالې، مونوګراف، کورنۍ دندې، ویب پاڼې، انټرنیټ کارونې او نورو له لارې ترسره کیدای شي.

**یو علمي اثر څوځلې د ځان په ګټه کارونه:**

که چیرې یو محصل له خپل هغه علمي کار او اثر څخه چې یو ځل یې کارولی وي او نمرې یې پرې اخیستې وي په تکراري ډول د نمرو اخیستلو په موخه استفاده وکړي نو د خراسان پوهنتون د اساسنامې د احکامو له مخې ګرم ګڼل کیږي.

**خپل نفوذ څخه د ځان په ګټه ناوړه ګټه اخیستنه:**

که چیرې یو محصل کوښښ وکړي د خپل نفوذ، پیسو ورکولو او واسطې کولو له لارې استاد وهڅوي تر څو خپلې نمرې زیاتې کړي نو دغه کړنه د خراسان پوهنتون د اساسنامې د احکامو له مخې ناوړه کار ګڼل کیږي.

**تاوتریخوالی:**

که چېرې یو محصل د پوهنتون په چاپیریال کې داسې الفاظ او ابزار وکاروي او یا داسې کړنې تر سره کړي چې د تاوتریخوالي سبب شي او درسي–تحصیلي محیط ته زیان ورسوي نو د خراسان پوهنتون د اساسنامې او د لوړو زده کړو وزارت د مقرراتو له مخې محرم (ګرم) ګڼل کیږي.






**د تدریسي چارو پروړاندې خنډګرځېدل:**

هر ډول ناوړه مداخله چې د پوهنځي او پوهنتون تدریسي او اداري چارو ته زیان ورسوي د خراسان پوهنتون د اساسنامې د احکامو مطابق ورسره چلند کیږي.

**له اصولو سرغړونه:**

د پوهنتون د اساسنامې له احکامو او اکادمیکو اصولو څخه سرغړونه جرم ګڼل کیږي.

**د محصل مجازات:**

که چیرې محصل د پورته ذکر شوو، ناوړه کړنو په سرته رسولو محرم (ګرم) وګڼل شي او دا عمل څو ځلې تکرار شي نو په لاندې توګه مجازات کیږي.

**اخطار:**

په شفاهي یا تحریري ډول محصل خبرول چې تیروتنه یې کړې او د تکرار په صورت کې ئې له مجازاتو اګاه کول.

**د مضمون ناکام:**

که چیرې محصل په ازموینه کې نقل وکړي نو په نوموړی مضمون کې ناکام شمېرل کیږي.

**له ټولګي څخه شړنه:**

ټولګیوالو سره تاوتریخوالې د درسي بهیر خنډ ګرځیدل، استاد او اداري کارکوونکو ته بې احترامي ددې سبب کیدای شي چې محصل له ټولګي څخه د لنډې مودې یا پوره سمستر لپاره وشړل شي.

**د ازموینې د پایلو ځنډول:**

که چیرې یو محصل تر ټاکل شوې مودې اړینی غوښتنې په ټاکلې موده کې تر سره نکړي د ازموینې پایلې یې ځنډیږي، یعنې نمرې یې نه اعلانیږی.

**د سمستر له ازموینې محرومیدل:**

که چیرې یو محصل د ازموینې په رارسیدو خپل پاتې فیسونه تادیه نکړي، په ازموینه کې ګډون نشي کولای.

**له برنامې څخه انفکاک:**

یو محصل په لاندې حالاتو کې منفک کیدای شي:

- د شاملیدو په موخه جعلي اسناد کارول.
- د ناوړه کړنو او سرغړونو تکرارول.
- په پر له پسې سمسترونو کې د کریدت سیستم پر اساس پاتې راتلل.
- دوامداره غیر حاضري .
- د محکمې له لورې د محکومیدو په صورت کې.

**د پاکۍ او نظافت مراعاتول:**

هر محصل، استاد، اداري او خدماتي کارکوونکي پدې مکلف دي چې د خپل ځان ،پوهنتون، پوهنځي ، دیپار تمنت او اداري نظافت مراعات کړي.

**د تبعیض او زورونې پرضد پالیسي:**

د اداره او تجارت ښانګي لیسانس برنامې یوه مهمه پالیسي داده چې داسې علمي او اکادمیک چاپیریال رامنځته کړي، چې په هغه کې استاد، محصل او اداري پرسونل پروړاندې د هر ډول تبعیض او تعصب مخنیوی وشي ځکه چې تبعیض او تعصب د خراسان پوهنتون د اصولو او ارزښتونو خلاف عمل دی. موږ پدې باور یو چې تبعیض او تعصب انساني کرامت ته سپکاوی دی او د تحقیق، تدریس او خدماتو پروړاندې خنډهم ګرځي.

د یادونې وړ ده چې هر ډول تبعیض او تعصب که د ژبې، رنګ، قوم، ځای، نژاد، دین ،قد، ښځې، مذهب، جنس، معلولیت، او معیوبیت په نوم وي او یا نورو انساني ځانګړنو له مخې، د افغانستان اسلامي جمهوریت د اساسي قانون او دخراسان پوهنتون دپالیسۍ له مخې جرم ګڼل کیږي.



## د تشدد پرضد پالیسي:

رهبري ژمنه ده چې داسې یو چاپیریال رامنځته کړي چې زده کړې، تدریس او تحقیق لپاره هوسا او د هر ډول تشدد څخه پاک وي، سر بیره پردې دا دخراسان پوهنتون د ټولو غړو مسؤلیت دی چې د هر ډول تشدد، غوسې او ګواښ (تهدید) څخه دیو او بل پر وړاندې ډډه وکړي.

## د تشدد تعریف:

هر هغه شفاهي یا فزیکي کړنه چې د پوهنتون د غړو د خوږیدو، دردیدو او بې عزته کیدو باعث شي تشدد بلل کیږي.

چې بیلګې ئې په لاندې ډول دي:

۱. فزیکي یرغل.

۲. دیو معقول او معصوم شخص پر وړاندې داسې سلوک او کړنه چې د هغه د توهین او تحقیر باعث شي.

۳. دیو چاپر وړاندې داسې عمل سرته رسول چې ځان او مال ته ئې ترې خطر وي.

۴. د خراسان پوهنتون د غړو پټ څارل.

## د محصلینو ټولنې:

محصلین کولای شي لاندې ټولنې رامنځته کړي:

۱. دمحصلانو ادبي ټولنه: چې فرهنګي او ادبي پروګرامونه پرمخ بیائې.

۲. سیاحتي ټولنه: چې دنده ئې د محصلانو لپاره د تحقیقاتي او علمي سفرونو برابرول دي.

۳. سپورتي ټولنه: چې د محصلانو د سپورتي فعالیتونو د پراختیال لپاره زمینه برابروي.

۴. د محصلانو د فعالیتونو د تنظیم ټولنه:





## اداره او تجارت څانګې لیسانس برنامې علمي کادر غړي.



نوم: امان الله
تخلص: شیرزی
رشته: اقتصاد
درجه: ماستر
دنده: آمر د ډیپارټمنټ



نوم: احسان الله
تخلص: شورش
رشته: اقتصاد
درجه: ماستر
دنده: د اقتصاد پوهنځي رئيس



نوم: نجاد
تخلص: احمد
رشته: اقتصاد
درجه: ماستر
دنده: استاد



نوم: سيد يحيى
تخلص: عارفي
رشته: اقتصاد
درجه: ماستر
دنده: استاد



نوم: صدر ایوب
تخلص: نیازی
رشته: اقتصاد
درجه: ماستر
دنده: استاد



نوم: سيد سجاد
تخلص: علي شاه
رشته: اقتصاد
درجه: ماستر
دنده: استاد



نوم: احسان الحق
تخلص: حقمل
رشته: اقتصاد
درجه: ماستر
دنده: استاد



نوم: علي احمد
تخلص: کاظمي
رشته: اقتصاد
درجه: ماستر
دنده: استاد



نوم: یامین
تخلص: عمري
رشته: اقتصاد
درجه: ماستر
دنده: استاد



نوم: نصرت الله
تخلص: عبيد
رشته: اقتصاد
درجه: ماستر
دنده: استاد



نوم: احسان الله
تخلص: همکار
رشته: اقتصاد
درجه: ماستر
دنده: استاد

## اداري کارمندان



نوم: سمیع الحق نیازی
تخلص: حقمل
رشته: کمپیوټر ساینس
درجه: لیسانس
دنده: تدریسي مدیر



نوم: زرولي
تخلص: شیرزاد
دنده: خدماتي کارمند